**2022 Ontario Voting Guide – Pashto (Pushto)**

# د آنټاریو په ایالتي ټاکنو کې رایه ورکولو ته چمتو شئ!

خپل رایه (د X نښه) د جون په دوهمه یا د مخه وکاروئ.

## وړتوب

د آنټاریو په ټولټاکنو کې د رایه ورکولو لپاره، تاسو باید:

- د ټولټاکنو په ورځ 18 کاله یا ډېر عمر ولرئ
- د کاناډا وګړی اوسئ؛ او
- د آنټاریو اوسیدونکی اوسئ.

## نوم لیکنه

د مي د میاشتې تر 23 مه پورې د رایه ورکوونکو په نوملړ کې خپل معلومات دلته تایید، اوسمهال (اپډېټ) او یا ور زیات کړئ: eregistration.elections.on.ca

که تاسو نوم لیکنه نه یې کړې، بیا هم تاسو کولای شئ چې رایه ورکړئ . کله چې تاسو رایه ورکولو ته ځئ خپل معلومات په حضوري توګه ور زیات کړئ.

## د رایه ورکوونکو د معلوماتو کارټ

که تاسو د رایه ورکوونکو په نوملړ کې یاست، تاسو ته به د رایه ورکوونکو د معلوماتو کارټ واستول شي چې د دې په اړه معلومات لري چې کله او چیرته رایه ورکړئ. د مي د میاشتې د 13 مې نیټې څخه د رایه ورکوونکو د معلوماتو کارټ د لېږلو بهیر به پیل شي.




که چیرې تاسو د رایه ورکولو د معلوماتو کارټ ترلاسه نکړی، تاسو بیاهم کولای شی رایه ورکړی. د پیژندنې یو کارټ وړاندې کړئ چې ستاسو نوم او اوسنی استوګنځای دواړه وښیي.

ستاسو په ټاکنیزه سیمه کې د نېټو او د رایه ورکولو د ځایونو بشپړ نوملړ لپاره د Elections.on.ca څخه لیدنه وکړئ او یا د الیکشن آنټاریوایپ ډاونلوډ کړئ.

## د رایه ورکولو لپاره د پیژندنې کارټ

آیا تاسو د رایه ورکولو د معلوماتو کارټ لرئ؟

هو – د پیژندنې یو کارټ وړاندې کړئ چې ستاسو نوم وښیي

نه – د پیژندنې یو کارټ وړاندې کړئ چې ستاسو نوم او د اوسېدو پته وښیي

تاسو کولای شئ د رایه ورکولو په وخت کې د خپل د پیژندنې کارټ الکترونیکي کاپي وکاروئ، کوم چې کېدای شي په ګرځنده وسیله چاپ یا ښکاره شي.

د پیژندنې داسې کارټ ته اړتیا نشته چې عکس ولري. کله چې تاسو رایه ورکولو ته ځی، تاسو اړتیا نلرئ د خپل جنسیت یا د جنسیت په اړه کوم معلومات وړاندې کړی.

د منل شوي پیژندنې کارټونو بېلګې دا دي:

- د آنټاریو د موټر چلولو جواز
- د آنټاریو عکس لرونکی کارټ
- د کریډیټ کارټ ریپورټ (سټېټمنټ)
- د یوټیلټي یو بل
- د استوګنې د کرایې تړون
- د زده کوونکو ټرانسکریپټ

په حضوري توګه د رایه ورکولو لپاره د منل شوي پیژندنې کارټونو نوملړ دلته وګورئ:
elections.on.ca/id-requirements

## راشئ زموږ لپاره کار وکړئ

په دې ټولټاکنو کې د کار کولو غوښتنلیک ورکړئ!

که تاسو 16 کاله یا ډیر عمر لرئ، تاسو کولای شی د مخکینی رایي ورکولو (ایډوانس ووټنګ) پرمهال یا د ټاکنو په ورځ د ټاکنیز چارواکي په توګه کار کولو لپاره غوښتنلیک ورکړی. په ټاکنو کې د کار کولو سره، تاسو د هرچا لپاره د رایې ورکولو په آسانه کولو کې مرسته کوئ.

ټول کارکونکونو ته پیسې ورکول کیږي، اواضافي روغتیایی اقدامات د کارکونکو د خوندي ساتلو لپاره شتون لري.
د نورو معلوماتو لپاره، د jobs.elections.on.ca څخه لیدنه وکړئ.

## د الیکشن آنټاریو ایپ

زموږ د نوي ګرځنده اپلیکیشن سره د ټاکنو ځانګړي معلومات ترلاسه کړئ!

د الیکشن آنټاریو ایپ ډاونلوډ کړئ او د لاسرسي لپاره یو اکاونټ جوړ کړئ:

- ستاسو د رایه ورکوونکي د معلوماتو کارټ د سکین وړ کاپی
- ستاسو د رایه ورکولو د ځایونو او نیټو بشپړ نوملړ
- د ټاکنو خبرتیاوې چې خپل په خوښه یې تعدیل (کستمایز) کولای شی
- ستاسو د ټاکنیزې سیمې لپاره د نوماندانو نوملړ

## مخکې رایه ورکړئ

- د پُستې له لارې
  - د پُستې له لارې رایه ورکولو لپاره په votebymail.elections.on.ca کې غوښتنلیک ورکړئ یا د elections.on.ca څخه د غوښتنلیک فورمه ډاونلوډ او چاپ کړئ
  - د آنټاریوډ ټولټاکنواداره (الیکشن آنټاریو) باید ستاسوغوښتنلیک د مې د میاشتې په 27 مه د ماښام تر 6 بجو (ختیځ وخت) ترلاسه کړي
  - د آنټاریوډ ټولټاکنواداره باید ستاسو د رایه ورکولو بشپړ شوی ټولګه (کیټ) د جون په 2 مه د ماښام تر 6 بجو (ختیځ وخت) ترلاسه کړي ترڅو وشمیرل شي
  - د پیژندنې هغه کارټ چې تاسو ورته د پُستې له لارې رایه ورکولو لپاره اړتیا لرئ، توپیر لري. په دې اړه دلته معلومات لاس ته راوړئ: elections.on.ca/id-requirements
- ستاسو د ټولټاکنو سیمه ایز دفتر(ریټرننګ آفس) کې
  - ستاسو د ریټرننګ آفس ستاسو د ټاکنیزې سیمې لپاره د ټولټاکنو سیمه ایز دفتر دی
  - د مې د میاشتې له 5 مې نیټې څخه د جون تر اوله د ماښام تر 6 بجو پورې (ختیځ وخت) خپل د ټاکنو سیمه ایز دفتر کې په حضوري توګه رایه ورکړئ

- خپل د ټولټاکنو سیمه ایز دفتر خپل د رایه ورکوونکو د معلوماتو پرکارټ او یا دلته ومومئ :
  voterinformationservice.elections.on.ca
- د مخکینۍ رایه ورکولو (ایډوانس ووټنګ) په موده کې
  - د مې د میاشتې د 19مې نیټې څخه تر 28 مې پورې د سهار له 10 بجو څخه د ماښام تر 8 بجو پورې (ختیځ وخت) خپل په ټاکنیزه سیمه کې د مخکینۍ رایه ورکولو په یو ځای کې رایه ورکړئ.
  - د رایه ورکولو ځایونو او نېټو بشپړ نوملړ دلته ومومئ: voterinformationservice.elections.on.ca

## د ټولټاکنو په ورځ رایه ورکول

- د جون په 2 مه د سهار له 9 بجو څخه د ماښام تر 9 بجو پورې (ختیځ وخت) په خپل ټاکل شوي ځای کې رایه ورکړئ.
- خپل د رایه ورکولو ټاکل شوی ځای خپل د رایه ورکوونکو د معلوماتو کارټ، د الیکشن آنټاریو په ایپ یا دلته ومومئ:
  voterinformationservice.elections.on.ca

## لاسرسی

دلته تاسو ته د لاسرسي وړ ځیني وسیلې او خدمات شتون لري.

ستاسو د ټاکنو سیمه ایز دفتر کې:

- د مې د میاشتې له 21 مې څخه د جون تر اوله پورې یا د آپاینټمنټ له لارې د رایه ورکولو مرستندویه ټیکنالوژي وکاروئ
- خپل د ټاکنو سیمه ایز دفتر ته زنګ ووهئ ترڅو د کور لیدني (هوم ویزیټ) یا خپل په ځای کې د رایه ورکولو د لاسرسي وړ(کرب سایډ ووټنګ) غوښتنه وکړئ
- د ټاکنو له ورځې مخکې د رایه ورکولو ځای د بدلولوغوښتنه وکړئ چې ستاسو د لاسرسي اړتیاوې په ښه توګه پوره کړي

ستاسو د رایه ورکولو په ځای کې:

- د امریکایي د نښو ژبې (امریکن ساین لینګویج) ژباړونکي یا مرستندوی لپاره غوښتنه وکړئ او موږ به لګښت ورکړو
- خپله ګرځنده وسیله د لاسرسي وسیلې په توګه وکاروئ
- د بریل یا د رایه ورکولو د یوې لویې پاڼې غوښتنه وکړئ
- د مرستې لپاره یو ملګری، مرستندوی یا خدمتي څاروی راوړئ
- په ټولټاکنو کې د رایه ورکولو لارښووني او معلومات له 30 څخه زیاتو ژبو کې دلته ترلاسه کړئ: elections.on.ca

د رایه ورکولو ټول ځایونه باید د آنټاریود ټاکنو د ځایونو لاسرسي معیارونه پوره کړي، چیرې چې امکان ولري.
د رایه ورکولو په اړه معلومات د غوښتنې په صورت کې په بدیل شکل کې شتون لري.

ستاسو د رایه ورکولو ځای او نورو خدمتونو ته د لاسرسي په اړه او لا زیات معلومات دلته ومومئ:
elections.on.ca/accessible-voting

## کووېډ-19

مونږ د روغتیا د لوی رئیس د دفتر سره کار کوو ترڅو د رایه ورکوونکو او زمونږ د کارکونکو لپاره رایه ورکونه خوندي وساتو. د کووېډ-19 د ایالتي اقداماتو سربېره، د عامې روغتیا ځانګي او ښاروالی کولای شي خپل د سیمو لپاره د کووېډ-19 نور روغتیایی تدابیر تنظیم کړي.

کله چې تاسو رایه ورکولو ته ځی، تاسو به وګوری چې مونږ په هغه وخت کې د غوره معلوماتو پراساس تدابیر نیولي دي - پدې کې ښایی ماسکونه، فزیکي واټن، د لاسو د پاکولو لپاره سینیټیزر، او ښیښه يي خنډونه شامل وي.

## زمونږ سره اړیکه ونیسئ

- وېب پاڼه: elections.on.ca
- ټیلیفون: 1.888.668.8683
- ټیلي ټایپ: 1.888.292.2312
- بریښنالیک: info@elections.on.ca
- ټویټر: @ElectionsON
- فیسبوک: ElectionsON
- انسټاګرام: @electionson